# کتاب

کتاب هغه ملګرئ دئ چي هيڅکله څوک نه ترې خپه کيږي.

له کتاب سره دوستي د انسان پوهه او عزت زياتوي.

کتاب بې ارزښته مه ګڼئ ، د کتاب په ليکلو ډېره خواري شوې وي. د کتاب هر ټکئ او ليکه (کرښه) نوې نوې خزانه ده. کتاب و لولئ ، زده يې کړئ او مينه ور سره ولرئ.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بې ارزښته | بې قدره | خزانه | ډيري پيسې |
| ګڼل | بلل | | |
| مينه | ګرانښت ، محبت | | |



# هـــوا

هوا د هر انسان او هر ساکښ د پاره ضرور ده. په هوا سره انسانان ، حيوانان او نباتات(شنه) ژوندي دي.

که هوا نه وای هيڅ چا به هم ژوند نه وای کړئ. هوا چي څومره پاکه وي هغومره د انسان روغتيا پکښي ښه وي. په ناپاکه هوا کښي انسان څه چي وني لا هم ناروغه کيږي.

په ښارو کښي چي فابريکې او موټرونه ډېر وي هوا يې خرابه وي ، ځکه نو ډېر خلک په کليو کښي ژوند کوي ، چي هلته هوا دومره خرابه نه وي.

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| ساکښ | ساکښونکئ ، ژوندی |
| دومره | دونه |

# کـــار

کار انسانانو ته ګټه رسوي. کار که د یوې خوا څخه د سړي د ژوندانه اړتیاوي ور برابروي د بلې خوا څخه انسان په حرکت راولي او بدن ته یې ګټه رسوي. په اسلام کښې کار ډېر ستایل شوئ دئ. پیغمبرانو ټولو کار کړئ دئ.

حضرت محمد (ص ) د کور او بهر کار پخپله کاوه. کوم کار چي به یې پخپله کولای شو په بل چا به یې نه کاوه ، د دین او دنیا کارونه یې دواړه کول.

کار کول په اسلام کښې سنت دي.

موږ ته لازمه ده کار وکړو چي هم مو ژوند ښه شي او هم د نبي(ص ) سنت پر ځای کړو.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| اړتیا | ضرورتونه |
| ستایل | صفت کول |
| سنت | هغه څه چي پیغمبر(ص ) کړي دي |



# ټوکه

یو سړی په کرایي کور پسې ګرزېدئ ، خو پیدا یې نه کړ . ملګري یې ورته وویل: تر څو چي کور پیدا کیږي تر هغه د خسور کره واوسېږه.

هغه ورته وویل: "د خسور کره خو ځکه نه شم اوسېدلای چي هغه د خپل خسور سره اوسیږي".

# ګاونډیان

زموږ د کور شاوخوا اوسېدونکو ته ګاونډیان وایي.

ګاونډیان یو پر بل باندي ډېر حقونه لري ، چي یو څو یې دلته راوړو:

١ـ که ناروغه شي ، پوښتني ته يې بايد ور شو.
٢ـ که مړ شي د جنازې لمانځه ته يې بايد ور شو.
٣ـ که څه شي ته اړ وي ، بايد مرسته ور سره و کړو.
٤ـ که وږئ وي ، بايد ځان په خبر کړواو څه ور کړو.

په اسلام کي د کور په شاوخوا کښي تر څلوېښتم کور پوري په ګاونډيانو کي شمېرل کيږي.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| ګاونډيان | همسايه‌گان |
| جنازه | مړی |



# زړه سپوږمۍ

د يوه لېوني څخه يو چا پوښتنه وکړه: نوې مياشت چي را و خيژي په هغه زړه سپوږمۍ څه وشي ؟
لېوني ورته وويل:" هغه زړه سپوږمۍ ماته شي او ستري ځني جوړ شي".

# ښوونځی

ښوونځی د زده کړي ځای دئ. موږ هره ورځ پر وخت ښوونځي ته ځو ، هلته لوست وايو او ليک زده کوو. په تفريح کي لوبي کوو.
ښوونځی زموږ د کور په شان دئ او د کور په شان يې پاک ساتو. د ونو ښاخونه يې نه ماتوو او د ګلانو بوټي يې نه خرابوو.

له همزولو سره مینه لرو. یو له بل سره جنګ او جګړه نه کوو. د ښوونکو خبرو ته غوږ نیسو او په لوستونو کي زیار باسو.

په خپل شوق مکتب ته ځمه
هم کوښښ او زیار کومه
د مکتب یم زده کوونکۍ
هم به پوه شم هم لیکونکۍ
چي له خپلو همزولانو
او له نورو همصنفیانو
په تعلیم کي پاتي نه شم
او له هر چا څخه ښه شم

(کشککي)

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښوونځی | مکتب | زیار | کوښښ |
| لوست | درس، سبق | تعلیم | زده کړه |
| مینه | ګرانښت | | |



# بڼ

بڼ موږ ته ډېري ګټي لري. بڼ موږ راز راز مېوې راکوي، په اوړي کښي یې د ونو تر سیوري لاندي کښېنو، په ژمي کښي یې د وچو لرګیو څخه د سوځلو د پاره کار اخلو، وابنه یې خپلو ژویو ته د خورک د پاره ورکوو او د ورځي د خوا څخه د لمر د رڼا په واسطه اکسیجن را کوي چي زموږ د تنفس د پاره ډېر ضرور دئ. په اوړي کي ډېر خلک په بڼونو کي مېلې کوي. د دې د پاره چي دغه ټول شیان ولرو نو ښه به دا وي چي په خپلو بڼو کښي ښې ښې وني کښېنوو او خپل بڼونه ښه و ساتو.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بڼ | باغ | ونه | درخته |
| سیوری | سایه | ژیوي | حیوانات |

# ټوکه

یو سړی یو لیکوال ته ورغئ او ورته ویې ویل: ”یو لیک را ولیکه”.
لیکوال ورته وویل: ”پښه مې خوږیږي”. هغه سړي ورته وویل: ” زه خو تا کوم ځای ته نه لیږم او نه په پښه خط لیکې”.
لیکوال ورته وویل: ”رښتیا وایې، مګر زه چې هر چاته خط ولیکم، زه پخپله ورسره ځم دا ځکه چې زما په خط نورڅوک نه پوهیږي او زه یې باید په خپله ورته ولولم”.

---

ښوونکئ دې د زده کوونکو څخه پوښتنه و کړي چې که د چا کومه ټوکه زده وي.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټوکه | مسخره | لیکوال | خط کښونکئ |
| لیک | خط | و لولم | و وایم |



# د اجمل نوې خولۍ

یوه ورځ اجمل او د هغه ملګری سور ګل د خپلو کورونو خوا ته روان وه. پر لاره یې یو هلک ولید چې نوې خولۍ یې پر سر وه. د دواړو دا خولۍ خوښه شوه.
سور ګل وویل، ”و ګوره، د هغه هلک خولۍ څومره ښه ښکاري. ما پخوا داسې خولۍ نه وه لیدلې. نه پوهېږم چې دا نوې خولۍ یې چیرته پیدا کړې ده.”
اجمل وویل، ”هو، ډېره ښه ښکاري. زه به هم یوه نوې خولۍ واخلم. خو نه پوهېږم چې دا ډول خولۍ چېرته پیدا کیږي.”

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| چیرته | چیري |
| اخیستل | رانیول |

# اجمل خولۍ رانیسي

دوی لا خپلو کورونو ته نه وه رسېدلي چې په لاره کې د اجمل پلار په مخه ورغئ. اجمل چې خپل پلار و لید ، ورته ویې ویل ، "پلاره ! هغه هلک وینې چې نوې خولۍ یې په سر ده ؟ ماته هم یوه نوې خولۍ جوړه کړه."

د اجمل پلار وویل ،"ښه ده زویه ، څو ورځي وروسته ستا د تره کره بلخ ته ځو هلته به تاته هم یوه د قره قلي خولۍ
واخلم."
څو ورځي وروسته اجمل د خپل پلار سره بلخ ته ولاړ. بلخ ته نژدې یې یوه لویه رمه و لیده.
اجمل پوښتنه وکړه ،
"پلاره ، دا څه ډول پسونه دي ؟ ما خو داسي پسونه پخوا نه وو لیدلي."



پلار یې جواب ورکړ :"زویه ، دا قره قولي پسونه دي. قره قولي پسونه ډېري ګټي لري.
د دغه ډول پسونو د پوستکو څخه د قره قولي خولۍ او ځیني نور شیان جوړېږي. پوستکي یې نورو هیوادو ته هم لېږل کیږي او خلک یې ډېر خوښوي."

اجمل وویل: "پلاره ډېر تشکر."

# اجمل د تره سره بازار ته ځي

سبا اجمل د خپل تره سره بازار ته ولاړ. هلته یې څو دکانونه ولیدل چې د
قره قولي پوستکي پکښې خرڅېدل. اجمل او تره یې یوه دکان ته ورغلل چې هلته د قره قولي پوستکي خرڅېدل. تره یې وویل: "اجمله !

ځانته دي يو ښه پوستکی خوښ کړه".

**اجمل** وويل: "کاکا جانه ! ته يې راته خوښ کړه".

د **اجمل** تره وويل: "ښه ده زه به يې در ته خوښ کړم".

د **اجمل** تره يو پوستکی خوښ کړ او له دکاندار څخه يې پوښتنه و کړه ، " د دې پوستکي بيه څو ده"؟

دکاندار جواب ور کړ: "د دې پوستکي بيه زر افغانۍ ده".

د **اجمل** تره وويل: " ډېر ګران دئ. همداسي پوستکی په هغه دکان کي هم شته چي هغه ستا تر پوستکي ارزانه دئ".

---

لغاتونه:

تره — اکا ، کاکا — بيه — قيمت



دکاندار وويل: " دا پوستکئ تر هغه پوستکي چي تاسي ليدلئ دئ ښه دئ.

نو ځکه دا تر هغه ګران دئ. زما په دکان کي تر دې ارزانه پوستکئ نشته".

د **اجمل** تره بيا پوښتنه وکړه: " د دې پوستکي اخيري بيه څو ده"؟

دکاندار جواب ور کړ: " اخيري بيه يې نهه سوه افغانۍ ده".

د **اجمل** تره پوستکئ واخيست او خولۍ يې ورته جوړه کړه.

**اجمل** چي خپله نوې خولۍ پر سر کړه خوښه يې شوه او خپل تره ته يې وويل: " کاکا جانه تشکر".

---

يادونه:

ښوونکئ دي د قره قلي پوستکي په هکله زده کوونکو ته معلومات ور کړي.

# افغانستان

زموږ ګران هیواد افغانستان د اسیا په لویه وچه کښې پروت دئ. ګاونډي هیوادونه یې په شمال کښي د ازبکستان ، تاجکستان او ترکمنستان هیوادونه ؛ د غرب (لوېدیځ) د خوا ګاونډی یې ایران ، د جنوب او شرق(ختیځ) د خوا ګاونډی یې پاکستان او په ختیځ یو څو کیلو متره د چین سره سرحد لري.

ډېر غرونه لري ، چي تر ټولو لوی غرونه یې د هندوکش غرونه دي. پر غرو باندي یې په ژمي کي واوري اوري او په پسرلي کښي یې واوري ویلي کیږي او رودونه یې د ابو څخه ډک بهیږي.

لوی ښارونه یې لکه کابل ، کندهار ، هرات ، مزار شریف او نور دي. نخشه یې دغه ده لاندي



ليکل شوې ده



# اختر

د اختر په ورځو کې د نړۍ ټول مسلمانان خوښ او خوشاله وي. په هر کال کښې دوه واره اختر وي. یو اختر د روژې تر نیولو وروسته راځي چې کوچنی اختر یې بولو او تر دغه کوچني اختر دوې میاشتې او لس ورځې وروسته لوی اختر راځي. په لوی اختر کښې د نړۍ شته من مسلمانان حج ته ځي او ټوله خلک چې پیسې لري د دغه اختر په ورځو کښې پسه ، اوزګړی ، غویی او یا اوښ حلالوي او غوښې یې و خوارانو او بېچاره خلکو ته خیرات ور کوي. دغه دواړه اخترونه درې درې ورځې وي.

په اخترونو کې مسلمانان نوي او یا پاک کالي اغوندي ، یو د بل کورو ته سره ځي ، خپلو کوچنیانو (ماشومانو ) ته نوي کالي ور اخلي. کلچې ، جلبۍ او خوږې خوري. کوچنیانو



ته پیسې ورکوي.

کشران د مشرانو لاسونه مچوي او عزت یې کوي.

که څوک له چا څخه خواشینی وي د اختر په ورځو کښې پخلا کیږي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| شته‌من | خان | خوار | مسکین |
| بېچاره | مسکین ، غریب | خواشینی | خوابدی |

یادونه: ښوونکئ دي د اختر په هکله د زده کوونکو سره خبري وکړي.

# پسرلی

پسرلی د کال لومړی فصل دئ. په پسرلي کښې هوا ډېره ښه وي. په پسرلي کښې ونې شنې کېږي ، ګلان غوټۍ کوي ، بوټي شنه کېږي او مرغان د سړو ځایو څخه راځي. پسرلی د کار موسم دئ ، خلک په پسرلي کښې په کار نه ستړي کېږي.

په پسرلي کښې خلک باغو او پټيو ته د مېلې د پاره ځي ، د غلو او مېوو د پخېدو په هیله شپې او ورځې په خوښۍ تېروي.

پسرلی د کال په دغه درو میاشتو کښې وي لکه:

حمل (وری)
ثور (غویی)
جوزا (رغومی)



# هیواد

موږ بچیان د دې هیواد
پیدا شوي یو ازاد
خویندې وروڼه افغانان
ګډ مو کور افغانستان
یو که نن موږ کوچنیان
خو سبا ته یو لویان
دغه خاوره به کړو بڼ
دا ډاګونه به چمن
رسوو ځان تر جهان
څو مو مټو کې وي توان
خپل هیواد به کړو ودان
لوړ مو نوم پر ټول جهان

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هیواد | وطن | ډاګونه | میدانونه |
| بچیان | اولادونه | بڼ | باغ |

# د مسلمانۍ پنځه بناوي

د مسلمانۍ بناوي پنځه دي لکه:
پاکه کلمه
لمونځ
روژه
زکات
حج

۱ ـ پاکه کلمه لکه:
(لا اله الا الله محمد رسول‌الله)
۲ ـ لمونځ:
پر هر مسلمان په یوه شپه او ورځ کښې پنځه وخته لمونځ فرض دئ. لکه سهار، ماپښین، مازدیګر، ماښام او ماخستن.



۳ ـ روژه:
مسلمانان په کال کښې یوه میاشت روژه نیسي. روژه هره ورځ د سهار د لمر تر ختو د مخه بیا د ماښام د لمر تر لوېدو پوري نیول کیږي، چي په دغه وخت کښې نه شی خوري او نه شی چښي.

٤ ـ زکات:
هر شته من (خان) مسلمان خوارانو او مسکنانو ته څه ور کړي.

٥ ـ حـــج:
حج پر هر مسلمان په ژوند کي یو وار فرض دئ.
حج د سعودي عربستان د مکې شریفي په ښار کي کیږي. د کعبې شریفي پر شا و خوا اوه واره

را ګرزېدل ، د صفا او مروه د غرو تر منځ اوه واره تلل او راتلل ، د لوی اختر په شپه د عرفات ته میدان تلل دي.

یادونه:
ښونکئ دي د مسلمانۍ پنځه بناوي د زده کوونکو سره تکرار کړي او د هري هري بنا په هکله دي خبري ور سره وکړي



# څو پښتو متلونه

۱ ـ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا .
۲ ـ چي څه کرې هغه به رېبې.
۳ ـ خپل عمل د لاري مل.
٤ ـ ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.
٥ ـ چي اوسې په خوی به د هغو سې.
٦ ـ په یوه ګل نه پسرلی کیږي.
۷ ـ له یوه لاسه ټک نه خیژي.
۸ ـ مار ته په لستوڼي کي ځای مه ورکوئ.
۹ ـ پوره ورک دي کړه دوه کوره.
۱۰ ـ غل په غره کي نه ځاییږي.
۱۱ـ لویان په کور کي وایي ، کوچنیان پر بېبان.

# ژيـوي

ژيوي چي خلک يې حيوانان هم بولي د انسانانو په ډول د پاک خدای مخلوق دي. د نړۍ پر مخ د انسانانو په شاوخوا کي ژيوي هم ژوند کوي. ژيوي دوه ډوله دي چي يو ډول يې د کورنيو او بل ډول يې د وحشي ژيوو په نامه يادېږي. کورني ژيوي هغه ژيوي دي چي د انسانانو سره يو ځای ژوند کوي او کله چي انسان و ويني نه ځيني تښتي لکه پيشي، سپی، پسه ، خر ، غوا ، وزه او نور.

وحشي ژيوي هغه ژيوي دي چي په غرو او دښتو کي د انسانانو څخه ليري ژوند کوي او کله چي انسان و ويني نو ور ځني تښتي. وحشي ژيوي دوه ډوله دي. يو يې هغه ژيوي دي چي د نورو ژيوو غوښي خوري او ځيني يې بيا د نورو ژيوو غوښي نه خوري.



# زمری

زمری يو وحشي حيوان(ژيوی ) دئ چي زياتره د افريکايي هيوادو په واښه‌لرونکو ځايو کښي پيدا کيږي. دا ځکه چي په هغه ځايو کي نور داسي ژيوي ژوند کوي کوم چي غوښي يې زمريان خوري. د زمريانو وېښتان ژيړ رنګ لري، تېره نوکان او قوي غاښونه لري. يو لوی زمری ٢٠٠ کيلو ګرامه وزن لري.

زمری يو غوښي خوړونکئ حيوان دئ چي د نورو حيوانانو غوښي خوري. اکثره وختونه په ډله(ګله ) ګرزي او ښکار هم په ګډه کوي. د زمريانو په ګله کي يو نر، دوې يا درې ښځي او يو څو يې چيچيان وي. زياتره وختونه يې ښځي ښکار کوي.

ښځه يې د کاله د دوو څخه تر شپږو پورې چيچيان باسي. د زمري چيچيان د خپلې مور شيدې روي (خوري).

## توتکۍ

توتکۍ يوه کوچنۍ مرغۍ ده. توتکۍ دوه ټاټوبي لري، يو يې په شمال کې دئ او بل يې په جنوب کې دئ. د مای د مياشتې څخه بيا د اګست تر مياشتې پورې په شمالي هيوادو کې ژوند کوي. دلته ځالګۍ جوړوي او چيچيان اچوي.

کله چې چيچيان يې د هګۍ څخه راووزي نو ډېرو خوړو ته اړتيا لري. پلار او مور يې خپلو چيچيانو ته حشرې ور نيسي او په خوري يې.



کله چې يې چيچيان په الوتلو پيل وکړي او و کولای سي چې پخپله والوزي نو ټوله په ګډه افريکا ته کوچ کوي.

کوچنيان (ماشومان) داسي وايي:

توتکۍ ! دوه تاره دي لکۍ.

## توتکۍ

توتکۍ پاس په بلۍ
جوړوي ښکلې ځالۍ
خپلې ځالۍ د پاره
دې ودانۍ د پاره
خس او خاشاک ټولوي
په چت کې يې ښه منبلوي
لړي اوبه راوړي
هر څه پاسته راوړي
ختې کولي شي
کور جوړولي شي

دا خـــوش اوازه مـــرغۍ
جـــوړوي ښـــــکلې ځالې
د پـــــسرلـــي سنـــــدري
د تـــــوتـــکۍ خـــــبري

محمد عثمان (نژند )

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټاټوبي | کور | ځالګۍ | د مرغۍ کور |
| اړتیا | ضرورت | حشرې | لکه غوماشه |
| پاس | پورته ، لوړ | بلۍ | بام |
| خس | کوچنۍ خاشې | خاشاک | خاشې |
| چت | د خوني سر | خوش | ښه |
| سندري | غزلي | | |



# د ماشوم حقونه

کله چي یو ماشوم که هلک وي که نجلۍ په دنیا کي سترګي خلاصي کړي نو پخپله ژوند مخ ته نه سي وړلای او د لویانو مرستي او غمخورۍ ته اړتیا لري. دغه اړتیا یې باید مور او پلار ور تر سره کړي. د ماشوم اړتیاوي لکه خواړه ، اوبه، تازه هوا ،کالي ، بوټونه او د اوسېدلو ټاټوبی دي. سربېره پر دې د نورو انسانانو میني او محبت ته هم اړتیا لري.

دماشوم د حقوقو څخه یو هم د لوبو کولو حق دئ ، مشران باید هیڅکله ماشوم د لوبو څخه منع نه کړي.

پر پورتنیو اړتیاو سربېره ښه روزنه او پوهنه هم د ماشوم د حقونو د جملې څخه شمېرل کیږي چي دغه ټوله اړتیاوي یې په لومړي سر کي د

لویانو د خوا ورته برابرېږي او کله چې ماشوم لږ
څه په خبرو وپوهېږي نو بیا د لویان خبرو ته د
غوږ نیولو له لاري د یوې ښې راتلونکي د
لاسته راوړو د پاره کوښښ کوي.

---

یادونه
ښوونکئ دي زده کوونکو ته د ماشوم د حقوقو په باره کي
خبري و کړي.



# پلاره

شپه او ورځ لګیا په کار یې
مهربانه زما پلار یې
یې ډوډۍ پسې روان
په ستړیا نه یې د ځان
یا په فکر د لباس یې
غورځې پر ځې سرګردان
جوړوې مور لره کور ته
د راحت مو یې غمخور ته
په تعلیم کي مو بېدار یې
مهربانه زما پلار یې

محمد عثمان (نژند)

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| لګیا | مشغول | روان | رهي |
| لباس | کالي | سرګردان | ډېر مشغول |
| غمخور | غم خوړونکئ | تعلیم | زده کړه |
| بیدار | ویښ | | |

# ټوکه

يوه کوچني په يوه منګي کي چي اوبه پکښې وې خپل ځان و ليدئ. کوچني سر و خوځاوه ، هغه هم سر و خوځاوه. نو پلار ته ور غئ او ورته ويې ويل:

پلاره ! په منګي کي کوم څوک دئ او ماته سر خوځوي. پلار چي يې راغئ او په منګي کي يې خپل ځان و ليدئ ، نو منګی يې پورته کړ او پر مځکه يې و غورځاوه او داسي يې و ويل:

"په دا غټه ږيره کوچنيانو ته سر خوځوې."

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټوکه | مسخره | و خوځاوه | و ښوراوه |
| منګی | د اوبو لوی لوښی | | |



# کورنۍ

کورنۍ د پلار ، مور ، خويندو او ورونو څخه جوړيږي.

په کورنۍ کي پلار او مور د کورنۍ مشران دي. اولادونه د مور او پلار احترام کوي او په کارونو کي ور سره مرسته کو.

پلار د کورنۍ د ژوندانه د سمون د پاره زحمت باسي او مور د ماشومانو د پاره خواړه ، کالي او د ژوندانه نور ضروريات برابروي او اولادو ته د انساني ټولني د ټولو غوښتنو سره سمه روزنه ور کوي. د کورنۍ ټول غړي د کارونو په سر ته رسولو کي يو د بل سره مشوره او مرسته کوي.

په کورنۍ کي کشران د مشرانو احترام کوي او مشران پر کشرانو مهربانه وي لکه چي وايي:

که مشر مشرتوب غــواړي
کشر هم د دنيا دود غواړي

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| احترام | عزت | سمون | ښه والئ |
| دود | رسم ، رواج | | |



# لمر

لمر يو ستوری دئ. ستوري د غاز لويي کرې دي چي سوځي.

د لمر په دباندنۍ برخه کي تودوخه ٦٠٠٠ درجې ده. دننه د لمر په منځ کي د تودوخي درجه ١٥ ميليونه درجې ده.

دا چي لمر تر نورو ستورو لوی ښکاري پدې چي لمر تر نورو ستورو موږ ته را نژدې دئ.

لمر موږ ته ګرمي او رڼا راکوي. کله چي لمر په اوريځ کي پټ سي نو ساړه سي. اوريځ د لمر وړانګې نه پرېږدي چي ځمکي ته راو رسيږي.

ځمکه يو کال وخت غواړي چي د لمر پر شاو و خوا يو وار را و ګرځي.

سپوږمۍ هم په دغه وخت کي د ځمکي پر شاو خوا را ګرځي.

د لمر ډېره رڼا زموږ سترګو ته ضرر رسوي ځکه چي ډېره تېزه ده. دا به ډېر خطرناکه وي چي د لمر و سترګي ته مخامخ و ګورو.

د لمر رڼا ډېر رنګونه لري لکه بنفش، شين (ابي)، زرغون، ژېړ، نارنجي او سور.

موږ کولاى سو چي دا ټول رنګونه هغه وخت و وينو کوم چي د لمر رڼا په هوا کي د باران تر څاڅکو تېرېږي. ځکه نو سړى د بوډۍ ټال (سره او زرغونه) پر اسمان ويني.

لمر ډېر ليري دئ. که سړى د مځکي څخه تر لمر پوري په موټر کي تللاى نو به يې ۲۰۰ کاله اخيستي واى چي سړى لمر ته رسېدلاى واى.

نور ستوري تر دې لا ليري پراته دي. که چيري سړى و کوم ستوري ته په فضايي راکېټ کي تللاى نو به يې په سوو زرونه کاله اخيستي واى چي سړى ور رسېدلاى واى.



ډېر ستوري يو ځاى سره را ټول سوي وي او په اسمان کي يې لاري جوړي کړي وي چي هغه ته کهکشان وايي.

ستوري د شپې ډېر ښه ليدل کيږي. مګر دوى په ورځ کي هم وي. کله چي لمر راختلئ وي نو د لمر په رڼا کي ستوري نه ښکاري.

که سړى اسمان ته و ګوري نو ۵۰۰۰ ستوري به و ليدلاى سي. خو که د ستورو په دوربين کي ورته و ګورو نو به په مليارډو ستوري و وينو.

# لــمر

زه ځــــلانده لمر یمه
ښـــکلی مـــــنور یمه
ســاړه لــــیري کومه
تـــودوخــــــه را ولمه
تیـارې پسي رڼــا یمه
ملګری د هر چــا یمه
ګلان را ته خندا کوي
نــاڅي او مسکا کوي
زه د ژوند خبر یمه
زه ځلانده لمر یمه
ښکلی منــــور یمه

محمد عثمان (نژند)

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ځلانده | روښانه | منور | روښانه |
| ساړه | یخ | تودوخه | ګرمي |
| تیارې | تاریکې | ناڅي | اتڼ کوي |
| مسکا | خندا | | |



# ټوکــــه

یوه هلک په یوه دښت کي یو کیشپ پیدا کړ، نو خپل پلار ته یې راوړ او پوښتنه یې ځني وکړه: "پلاره دا څه شی دئ؟"

پلار چي یې کشپ نه پېژندئ نو یې ورته وویل:

زویه! "ته غنم ور واچوه که یې و خوړه نو کوتره ده او که یې ونه خوړه نو کډې در باروه چي توره بلا ده."

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ چي نومړي یې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه یې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.

د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د پښتو ژبو زده کوونکو د پنځم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

پدې کتاب کي پرته له ژبي نه د ځني نورو مضمونو په باره کي هم څه نا څه لیکل سوي دي، دا ځکه چي زموږ زده کوونکي باید وکولای سي چي د مورنۍ ژبي څخه و سویډني ته او د سویډني ژبي څخه و مورنۍ ژبي ته ترجمه و کړای سي. د دې کار د پاره باید زده‌کوونکي دغه لغاتونه په دواړو ژبو



# په سویډن کي د پښتو ژبي د زده کوونکو د پاره د پښتو ژبي د لوست پنځم کتاب

# ۵

ترتیب کوونکئ: عبدالعلي رسول‌زاده

و پېژني.
دغه کتاب به د ازموينې په توګه د يو څه مودې د پاره تدريس سي او د دغه تدريس په جريان کښې به د ښاغلو ښوونکو، ميندو، پلرو او زده کوونکو نظريې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنيو، پخوانيو او ځنې نورو کتابو څخه راټول سوي دي.

په درنښت alirasulzada@hotmail.com